زه به دا بيرغ هغه چا ته ورکړم چې د الله او د هغه له رسول لاسونو فتحه راولي‌سره مينه لري او الله به د هغه په

له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خبر په ورځ وويل: «زه به لاسونو فتحه راولي»دا بيرغ هغه چا ته ورکړم چې د الله او د هغه له رسول سره مينه لري او الله به د هغه په عمر بن الخطاب رضى الله عنه وايي: ما هېڅکله امیریت نه دی خوښ کړی مګر په هغه ورځ، وایي؛ ځان مې ورته رانیغ کړ چې غږ راته وشي، خو رسول الله صلى الله عليه وسلم علي بن ابي طالب ته غږ وکړ او بيرغ يې ورکړ او ورته يې وويل :«لاړ شه او تر هغه پورې آخوا دېخوا ونه ګورې تر څو چې الله تعالى برى نه وي درکړی» وايي علي يو څه مزل وکړ بيا ودريد او شاته يې ونه کتل، او چغه ئې کړه چې ای د الله رسوله! د څه لپاره له خلکو سره وجنګېرم؟ هغه وفرمايل :«تر هغه پورې ورسره وجنګېره چې ګواهي ورکړي چې له الله پرته بل حق معبود نشته او پر دې چې محمد د الله رسول دی، نو کله يې چې دا کار وکړ، خپله وينه او مال يې درڅخه خوندي کړل، مګر دا چې په حق وي (يعني وينه يې په حق توی شي او مال يې په حق واخيستل شي) او حساب به يې له الله تعالى سره وي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته سبا ورځ مدينې منورې ته څېرمه د خيبر ښار په يهودانو د مسلمانانو د بريا خبر ورکړ او دا چې دا کار به د هغه چا په لاس کېږي چې دی به هغه ته بيرغ ورکوي، هغه چې پوځ يې د نښان په توګه کاروي، د دې سړي يوه ځانګړتيا دا ده چې هغه له الله او رسول سره مينه لري او الله او رسول يې ورسره مينه لري. او عمر بن الخطاب رضي الله عنه يادونه وکړه چې هغه هېڅکله مشري نه ده خوښه کړې پرته له دې ورځې چې ده ته ورکړل شي، په دې هيله چې کوم څه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله او د هغه د رسول د مينې په اړه وويل هغه تر لاسه کړي، نو له دې امله عمر رضي الله عنه ځان نيغ کړ تر څو يې رسول الله صلى الله عليه وسلم وګوري؛ پدې هيله چې د مشر لپاره بلنه ورکړي، او ليوالتيا يې درلوده او ټينګار يې کاوه چې بيرغ ورکړل شي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم على بن ابى طالب رضي الله عنه راوبله او بيرغ يې ورکړ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته امر وکړ چې له لښکر سره حرکت وکړي او کله چې دښمن سره مخ شو نو؛ جګړه به نه دروي؛ نه به دمه کوي او نه به سولې ته غاړه ږدي، تر څو الله تعالى د لويو برجونو او قلاګانو فتح او بريا ورنصيب کړي او پر دښمن يې برلاسى کړي. نو علي رضي الله عنه روان شو، بيا ودريد خو شاته يې ونه کتل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د امر مخالفت ونه شي او په لوړ غږ يې وويل چې: اې د الله رسوله! د څه له امله له خلکو سره وجنګېرم. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تر هغه ورسره وجنګېره چې په دې خبره ګواهي ورکړي چې له الله پرته بل حق معبود نشته او پر دې چې محمد د الله رسول دی، نو کله يې چې دا ومنل او په اسلام کې داخل شول؛ نو ستا څخه يې خپلې وينې او مالونه په امن کې کړل او پر تا حرام شول؛ مګر دا چې په حقه وي؛ يعنې دا چې که چېرته جرم او يا تيرى وکړي او بيا د اسلام د قوانينو پر بنسټ د وژلو مستحق وګرځي، او حساب به يې له الله سره وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4958